Hazardous Waste Management Program


# د يو صحتمند کور لپاره پاکوالی او ضدعفوني کول




د زيات خوندي پاکوالي او د ميکروبونو د ضدعفوني کولو دا طريقې
رعايت کړئ تر څو د مرض د خورېدو په مخنيوي کې مرسته وشي.

**عمومي پاکوالی او ورپسې بې میکروبه کول هغه میکروبونه ختمولی شي کوم چې د کووید-19 په څېر مرضونه رامینځته کوي. د پاکوالي کار د لږ تر لږه خطر لرونکي تولیداتو او طریقو په کارولو سرهپه خپل کور کې د هرچا خوندي ساتلو غوره لاره ده.**

# خطرونه وپېژنئ



ډېر د پاکوالي توکي او کور کې د استفادې تولیدات داسې کیمیایي مواد لري چې سترګو یا ستوني کې خارښ پیدا کولی شي، سردرد او نورې صحي ستونزې لکه ساه لنډی رامینځته کولی شي. ددې لامل د بلیچ په څېر تولیداتو څخه د ګاز تنفس کول او یا په پوستکي کې د کیمیايي موادو جذبول دي. ددې په ځای د زیاتې خوندي طریقې یا تولید څخه استفاده کول ددې صحي خطرونو مخنیوی کوي.



**سترګو کې خارښ**

**ساه لنډی**

(که مخکې نه موجود وي)





**سردرد**

**پوستکي کې خارښ**

## د کم زهرجنو پاکوالي تولیداتو څخه استفاده وکړئ

**د** EPA سره راجستر ضدعفوني موادو څخه استفاده وکړئ تر څو دا خبره یقیني شي چې د میکروبو په وژلو کې اغېزمن وي.

د کمو زهرجنو ضدعفوني موادو لپاره داسې تولیدات وګورئ چې په لیبل یې لیکلي وي **CAUTION(احتیاط)** په ځای د هغو چې **WARNING(خبرداری)**، **DANGER (خطر)** یا **POISON (زهر)** یې پرې لیکلي وي. په نورو کمو زهرجنو غوراویو کې داسې مواد شامل دي چې ایتانول، ایسوپروپانول (ایسوپروپیل الکول)، هایدروجن پیروکسید، ایل-لاکتیک اسید او سیټریک اسید لري.

**ت**اسو د داسې عادي توکیو لکه جوش سوډا، سرکې، د لوښو صابون او اوبو څخه په کور کې د استفادې وړ پاکوونکي جوړولی شئ.

دا په کور کې د زیاتره سطحو د پاکولو لپاره ترکیب کېدلی او استفاده ترې کېدلی شي. د خطرناکو ضایعاتو ویبسایټ hazwastehelp.org په کتلو سره د خطرناکو ضایعاتو د مدیریت د پروګرام څخه د پاکوالي زیاته خوندي نسخه انتخاب کړئ.


**د** هغو تولیداتو څخه ځان وساتئ چې په لیبل یې داسې توري لیکلي وي لکه **CAUTION(احتیاط)**، **WARNING(خبرداری)**، **DANGER(خطر)**، یا **POISON(زهر)**.

په دوی کې به داسې زهرجن کیمیاوي مواد شامل وي چې ستاسو د روغتیا لپاره زیانمن دي. ددې په ځای داسې لیبل والا تولیدات غوره کړئ چې پرې لیکلي وي EPA Safer Choice(زیات خوندي انتخاب) یا Cradle to Cradle(له زانګو تر زانګو). دا تولیدات کم زهرجن مواد لري او ستاسو د روغتیا لپاره کم خطر لري.

په اوسط ډول، دوکان کې د هر درې پاکوونکو څخه په یو د **DANGER(خطر)** یا **POISON(زهر)** لیبل لګېدلی وي. د کیمیایي خطرونو او زیاتو خوندي متبادلو په اړه معلوماتو لرل تاسو سره مرسته کولی شي چې د پاکوالي کار په زیات خوندي او اغېزمن ډول وکړئ.

# د پاکوالي زيات خوندي آلات ترلاسه کړئ

**د** زیاتره سطحو د پاکولو لپاره دې سره د اوبو او کمو زهرجنو تولیداتو څخه استفاده وکړئ.



**د فاضله اوبو پاکوالي اله**



**سفنج**



**د پاکوالي برش**



**مایکروفایبر ټوټه**

# د ضدعفوني کولو نه مخکې پاک کړئ

## 1.

### پاکوالی سره پیل وکړئ

پاکوالی د سطحو یا شیانو څخه میکروبونه، مرداری یا ناپاکي لیرې کوي. د صابون، خپل د پاکوالي کم زهرجن محلول، اوبو او د مښلو د ټوټې په کارولو سره د سطحو نه مرداری او میکروبونه په فزیکي ډول لیرې کول پیل کړئ.

## 2.

### حفاظتي آلات واغوندئ

د دستکشو په لاس کولو او د سترګو د کومې حفاظتي بنې، ترجیحاً امنیتي عینکو، په سترګو کولو سره د خپل پوستکي او سترګو د حفاظت لپاره اقدامات وکړئ. د کړکیو په پرانېستلو او ځان ته تازه هوا په ورکولو سره د خپلو سږو حفاظت وکړئ.

## 3.

### له پاکولو وروسته ضدعفوني کول

ضدعفوني کول تقریباً ټول ساري میکروبونه په کیمیایي عمل سره له مینځه وړي، کله چې ترې د لیبل د لارښوونو له مخې استفاده وشي. دا په مرداري، خاوره یا دُوړه اغېز نلري. د یوې سطحې د پاکولو نه وروسته یو د EPA سره راجستر داسې ضدعفوني تولید وکاروئ چې د دغې سطحې لپاره مناسب وي. دغه سطحې په موښلو سره دوباره پاکې کړئ.

# په زیاته خوندي طریقه پاکولو او دې اړه چې څنګه د کووید-19 څخه د خپل فامیل حفاظت وکړئ په اړه زیات معلومات واخلئ

**په زیاته خوندي طریقه پاکولو او ضدعفوني کولو د مشورو لپاره وګورئ**

د کینګ کاونټي د خطري ضایعاتو د مدیریت پروګرام
Hazwastehelp.org

**کینګ کاونټي لپاره د کووید-19 په اړه تازه معلوماتو او سرچینو لپاره وګورئ**

عامه روغتیا-سیاټل او کینګ کاونټي
www.kingcounty.gov/depts/health

**د کووید-19 په ضد کارولو لپاره ضدعفوني موادو په اړه معلوماتو لپاره وګورئ**

د چاپیریال د ساتنې اژانس (EPA)
www.epa.gov/coronavirus

Hazardous Waste Management Program

**پوښتنې؟ اړیکه**


**Baba Badru**
د استوګنې د خدمتونو پروګرام منیجر
babatunde.badru@kingcounty.gov
(206) 263-1555

**Julia Singer**
د استوګنې د خدمتونو د تعلیمي لاسرسي پروګرامونه
julia.singer@kingcounty.gov
(206) 263-1670


متبادل فارمیتونه موجود دي 206-263-8899 یا
TTY Relay: 711


LHWMP_0343_Pashto May 2020